# کتاب ته څنګه کتنه یا کره‌کتنه «Book Review» وکړو؟

کتاب ته کتنه یا د کتاب کره‌کتنه له نخوړلیکنې توپیر لري؛ پر نخوړ لیکنې توصیفي (Descriptive) رنګ غالب دی، او کتاب ته کتنه یا کره‌کتنه تر ډېره توضیحي (Explanatory) او تر څنګ یې تحلیلي (Analytical) فعالیت دی. نخوړلیکنه د کتاب د لیکوال د ارزښتونو پر بنسټ او له باندني لاس‌وهنې پرته تر سره کېږي، حال دا چې کتنه یا کره‌کتنه د کتاب ارزښتي ارزونه ده چې له باندې څخه د کره‌کتونکي د ارزونې پر بنسټ صورت مومي. کتنه یا کره‌کتنه کې د نخوړلیکنې پر خلاف، د کتاب د برخو، څپرکیو او نورو عنوانونو په ترتیب سره ارزونه نه‌کېږي.

*په تېوله کې د کتاب کتنه یا کره‌کتنه د لاندې موضوع‌ګانو پر توضیح راڅرخي:*

- د کتاب بنسټیزه مفکوره؛
- د کتاب بنسټیزه موخه؛
- د کتاب د بنسټیزې مفکورې او موخې د اثبات څرنګوالی؛
- د کتاب د متن څېړنیزه تګلاره؛
- د کتاب ادبي جوړښت.

*همدارنګه، د کتاب کتنه یا کره‌کتنه کې کره‌کتونکی د لاندې پوښتنو پر بنسټ ارزونه کوي:*

- آیا د کتاب لیکونکی خپلې موخې ته په رسېدو کې کامیابه دی؟
- آیا د کتاب لیکونکی د خپلې فرضیې د اثبات لپاره لازم او کافي اسناد او شواهد راټول کړي دي؟

- آیا د کتاب لیکونکی د کتاب پر موضوع د بحث علمي وړتیا یا علمي صلاحیت ( Academic Qualification or Academic Authority) لري؟
- د کتنې لاندې کتاب، په ورته موضوع کې له نورو کتابونو سره څنګه ارزوئ؟
- د کتنې لاندې کتاب، په اړونده برخه کې له پوهې سره څومره مرسته ( Contribution to Knowledge) کړې؟

*همداسې، ښه کتنه یا کره‌کتنه د لاندې ځانګړتیاوو درلودونکې ده او له لاندې پړاوونو تېرېږي:*

- د کتنې لاندې کتاب د لیکونکي د لیدلوري او اندونو په اړه په نورو سرچینو کې مطالعه؛
- د کتنې لاندې کتاب ښه په غور او دقت سره مطالعه، که اړتیا وي نو کتاب دې څو ځله مطالعه شي؛
- د کتنې لاندې کتاب د مطالعې پر وخت د مهمو مسایلو یادښت‌لیکنه؛
- د لیکل شوو یادښتونو راټولول او ترتیب؛
- د لیکلو لپاره منظم چوکاټ او علمي تګلارې ته پام.

*وروستی دا چې، د ښې کتنې یا کره‌کتنې لپاره د لاندې چوکاټ او تګلارې وړاندیز کوو:*

1. سریزه
2. د کتاب پېژندنه
   - د کتاب عمومي پېژندنه
   - د کتاب بنسټیزه مفکوره
   - د کتاب موخه
   - د کتاب څېړنیزه تګلاره
   - د کتاب ځانګړتیاوې
3. د کره‌کتونکي ارزونه
   - له کتاب څخه عمومي اخیستنه
   - د کتاب لاسته‌راوړنې

- د کتاب پیاوړتیاوې (Strengths)
- د کتاب کمزورتیاوې (Weaknesses)
- د کتاب څېړنیزه تګلاره
- د کتاب پر ځینو –مهمو– برخو د کره‌کتونکي تبصره

4. پایله.

**لکه:**

**«پښتو شعر او تېر ارمان[1]» کتاب ته کتنه**

**نصرت الهام**

**سریزه:**

..........................................................................................................................................

..........................................................................................................................................

.......

[1] کرګر، محمد اکبر، پښتو شعر او تېر ارمان. کابل: هاشمي خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۷